دار وی که زندان وی که شرنګا د زولنو
موږ به د وطن د سرلوړی سندری بولو



**نشرات ویژه ی (پیام وطن) بمناسبت هفده همین سال شهادت دکتور نجیب الله**

تاریخ نشر: 27.09.2013

سرلوڅ مرادزی

د دوکتور نجیب الله د اوولسم تلین په مناسبت

**د ۲۰۱۳ کال د سیپټمبر ۲۰ مه**

## د دوکتور نجیب د پېر او شخصیت نیمګړې انځور

پر ماته کښتۍ ناست یم، توپانونه دې په مخ کې

په دغه لار یې بیا یم که وم، وم که نه وم، نه وم

علامه، قیام الدین خادم

د افغانستان واکمنۍ ته د دوکتور نجیب الله راتګ، ریښتیا هم پر یوې ماتې کښتۍ له سفر سره چې د سمندر توپاني څپو پسې اخیستې وي، تشبیه کېدلای شي.

ماته کښتۍ د هغه مهال دولت او ګوند وو چې تګلار او اندتوګه یې بېکاره او زړه شوې وه، خو یو شمېر پلویانو یې هغه نه شوه درک کولای او یا یې په نورو لاملونو د هغو د بدلون او تغییر مخه نیوله او توپاني څپې د افغانستان په میدان د ختیځ او لویدیځ سړه جګړه او له افغانستانه د پاکستان او ایران تاریخي غچ اخیستل وو چې دوی داسې فرصت ته په تمه ناست وو او نجیب باید په داسې حالاتو کې لومړی د ګوند په اندتوګه او تګلار او بیا په دولت کې د ګوند د ونډې له لار، ژور بدلون راوستی وای چې افغان ملت سره یې د سولې ساحل ته په پوریستلو کې مرسته کړی وای، که څه هم نجیب د ملي روغې جوړې د تګلار په غوره کولو په دې اړه لومړني ګامونه واخیستل خو روستی بری ته د وخت او ځواکمنو پلویانو اړتیا وه چې په هغه چاپیریال کې داسې څه، شوني نه وو !

بلخوا که څه هم دولت او د وطن واکمن ګوند هغه مهال په ښکاره او له بهره سلامت او یو موټی ځلیده، خو په مغز او تنه کې یې یوخوا د جمعیت او نظارشورا مذهبي توندلارو سیکتاریستانو ځاله جوړه کړې وه چې د دولت او ګوند د وړاندې شوې تګلار پرځای یې خپله سیکتاریستي او سمتي تګلار مخې ته بیوله خو په ښکاره یې د هغې د پټولو لپاره د دولتي تګلارد پلیتوب چیغې وهلې او بلخوا په ګوند او دولت کې پاکستاني او ایراني

اجیرانو د بره جوړې کړې وه چې دوی هم فرصت غنیمت ګاڼه او پر دولت او ګوند یې د مرګوني ګوزارونو ، اسره نه کوله !

همداراز که په ګوند او دولت کې د یاد شویو ورانکارو سره ، اورګډې شوروي پاله ډلګی یوځای وګڼل شي، په ګوند او دولت کې د هیوادپالو او خپلواکپالو شمېره او اغیز نورهم راټیټېدای شي.

اوس د څو لسیزو روسته کله چې څوک د نوموړي شهید د واکمنۍ د پیر کورنۍ توپاني پېښې او یا په کور دننه د وخت ټګمار لوبغاړې اوهمداراز د هغه وخت سیمه یز او نړیوال سیاسي چاپېریال ګوري او بیا د داسې پېښو او د هغو د لوبغاړو په منځ کې د نوموړي، په دریځ او چلند کې د هغه شخصي ځواکمني تر سترګو تیروي، په قوي اند ، تفسیر یسیر یې د علامه خادم صیب په یادشوي بیت کې په ښه او بشپړه توګه بیان شوی دی.

دوکتور نجیب الله، افغانستان کې داسې مهال واکمنۍ ته ورسید چې د افغانستان پر مورچل د لویدیځ او ختیځ ترمنځ څو لسیزه سړه جګړه، د لویدیځ په ګټه د مېږې د انډلو او د کوچو او پیروي د راټولو کچې ته رسیدلې وه. همداراز د سیمې هیوادونه او ګاونډیان چې ددې جګړې په شپول کې ښکېل وو ، اوښ یې باید او له ناچارې ورځې د جګړې د فاتح پر ورشو چوو کړی وای. په ګاونډ ، لویدیځ او په کور دننه، هیوادني ځواکونه د جګړې د نړیوالو او سیمه یزو ګټونکو په خوښیو او مستیو کې پر اتڼ ورګډ وو او په دولت او وطن ګوند کې ځینو نورو بیا د پخواني شوروي په پردي غم کې اوښکې تویولې او د ځینو نورو لپاره هیوادنۍ ګټې هسې بابیزې خبرې ګڼل کېدلې !

په داسې مهال د افغانستان ماته کښتۍ د خونړیو توپانونو منځ کې ګیر او د خپلواک افغانستان داعیه له هر لورې تر تورو لوخړو لاندې وه !

که څه هم نړیوال، سیمه یز او کورني میراثي چاپېریال، د دوکتور نجیب او د هغه د پلویانو لاس او پښې تړلې وې خو بیا هم د هیواد ژغورنې لپاره د نجیب د ملي روغې جوړې تګلار او په افغان دولتي واک کې د ټولو افغانانو د ګډون لپاره هلې ځلې د هغه شخصي ځواکمنۍ، هوښیارتیا او وړاندلید ، څرګندوي چې سترګې پټول پرې له انصافه لیرې خبره ده.

دوکتور نجیب په یوه وخت، په دولت او ګوند کې د ببرک کارمل په سرخېلۍ د پر چمیانو له دې ګواښ چې نوموړی په خته پښتون او نه ښایي واکمني یې ټینګه او پیاوړې شي او د خلقیانو له دې پیغور چې هغه پرچمی دی او باید کمزوری وي، مخامخ وو. یانې نجیب د ملي روغې جوړې په تګلار او د متعصبه ګوندیانو له مطلقه واک څخه پراخ بنسټیه واکمنۍ ته د واک لیږد په ګڼا ، د دواړو تنګنظرو ډلو تر پرله پسې ګوزارونو لاندې و چې پخوا هیڅکله د ګوند په تاریخ کې داسې نه وو ، لیدل شوې.

د ببرک په مشرۍ یو شمېر پرچمیانو په ۱۹۹۲ کال د نجیب په وړاندې کودتا وکړه چې د نظارشورا او جمعیت سره یې د روسانو په ملاتړ، مخکې له مخکې تنظیم کړې وه. دوی په دې کودتا کې نه یوازې د ملګرو ملتو تر

څارلاندې بې پرې او لنډمهال حکومت ته چې د پخواني دولت او د وطن ګوند ونډه هم پکې خوندي شوې وه، د دولتي واک ليږد شنډ کړ، بلکې په ګوند او دولت کې يې خپل پخواني همفکران د نظارشورا او جمعيت په ښنو کې لکه د قرباني، ګډوري خرخره کړل!

ددغه کودتا له پښښيدو مخکې او د هغې په اړه، دوکتور نجيب د هيواد پوځيانو ته د يوې غونډې په ترځ کې وړاندوينه کړې چې دا وړاندوينه يې بيا کله چې کابل کې د ملګرو ملتو په حريم کې دېره وو، په يوه ليکنه کې کښلې، په دې ليکنه کې يوځای وايي « د يکشنبه په ورځ (۱) مې له ټولو جنرالانو او د وسلوالو درې ګونو ځواکونو له منسوبانو سره غونډه وکړه او ورته ومې ويل چې د جمعې په ورځ، يوه بې پرې کميټه چې په هيڅ ګوند او تنظيم پورې اصلاً نه ده تړلې او له هغې سره ټولو، زموږ په ګډون توافق کړی، کابل ته رارسيږي او له هغه اعلاميې سره سم چې ما خپره کړې، واک ترلاسه کوي. له ۳۵ تنو څخه يې ۱۸ تنه د جمعې په ورځ، کابل ته د راتګ لپاره چمتو دي. دغه کسان ځان سره او يا خپلو جيبونو کې کومه اردو يا ژاندارم يا امنيتي ځواک نه راوړي بلکې اړ دی چې ستاسو په وسلوالو ځواکونو او دولتي اداري ډډه ولګوي او تاسو هم له هغوی سره ريښتيني همکاري وکړی. بله دا چې ملګري ملتونه هم د هغوی او ستاسو ترڅنګ دريږي. ۴۵ ورځې روسته د ټولو افغانانو « لويه جرګه يا افغاني مجلس يا شورا» يوه غونډه کوي، د توافق شوي وخت، يو کال يا يونيم کال لپاره يو لنډمهال حکومت جوړوي، لنډمهال اساسي قانون تصويبوي او ټولټاکنې ترسره کوي او په دې توګه سوله راځي او جګړه پايته رسيږي. زه قرباني، او له واک څخه تيرېدلو ته چمتو يم، تاسو ټول پخپلو ځايونو پاتيږی. پام کوی، کومې ښښې ته لاس وانه چوی، او کومه کودتا ونکړی، چې لومړی پکې خپله سوځی. يوه اوږده وينا چې ثبت شوې خو خپره نه شوه، يوه تاريخي وينا چې روسته به يې ووينی، د دوی غوږونو مې پرانيستل، ځکه له پلانونو څخه خبر، وم. ښايي ووايا ست ولې دې دا پلانونه شنډ نکړل. داسې څه مې کولای شول، بايد بيا مې تورې ته لاس وړی وای، په داسې حال کې چې يوه مياشت مخکې مې د خپلې استعفی اعلاميه خپره کړې وه. بيا به وکړو، نړی، ملګرو ملتو او ټولو ويل چې نجيب دروا غ ويل، يوخوايي د سولې د بسيا لپاره واک پريښود ته چمتوالی نيوه او بلخوايي د واک ساتلو لپاره تورې ته لاس وروړ او خلک يې په چړې ټوټې کول. هغه يو ځانواک پال دی نه سوله پال. ځواکونو به بيا دننه او بيرون حالات نورهم خرابول او ددې ټولو ويجاړيو تاريخي پړه به زما پر اوږو باربده، لکه نن چې د نورو چلوټيانو او توطيه ګرو پر اوږو وربار ده. هغه وخت به نه ملګري ملتونه ما سره وای او نور په لسګونو منفي مسايل، خلکو او تاريخ ته به مې څه ځواب درلود، نړی او ملګرو ملتونو ته به مې څه ځواب وايه... خوله بده مرغه ويې نه منله!»

د دوکتور نجيب په هيوادپالنه او دهيواد ژغورنې په هڅو کې څه شک نشته، خو په توپاني حالاتو کې چې يوخوا د ببرک په مشری د پرچميانو غوښنې برخې دده په وړاندې، د نظارشورا او جمعيت سره لاس يوکړی و او بلخوا د تني په مشری د خلقيانو يوې غتې برخې لا پخوا پر نجيب ګوزار کړی و، له ده څخه يې د پوځي غبرګون امکان اخيستی و او ده لپاره ښه او مناسبه تګلار همغه وه چې خپله يې غوره او عملي کړه.

روسته د دوکتور نجیب دغه وړاندوینه، احمد شا مسعود د پروان او کاپیسا ولایتونو خپلو پلویانو ته په وینا کې چې ویدیویي کلیپ یې په بېلا بېلو برېښناپاڼو کې ترلاسه کېدای شي، کت مټ داسې بیان کړې ده « دا د پروان او باګرام نیول وو چې اصلاً چا په روستیو شپبو کې د داسې یو حرکت تصورهم نه شو کولای. تاسو پوهیږئ چې یوازې یوه ورځ پاتې وه، یانې یوه ورځ روسته بې طرف حکومت، کابل ته روان وو او په شا کې یې د ملګرو ملتو ځواکونه هم کابل ته رسیدل. یوازې په روستۍ ورځ مې وویل چې الحمدالله د چلوټې مخه ونیول شوه او دغه ویاړ خدای د پروان او کاپیسا د خلکو په برخه کړ او دې خلکو پخپلو سربښندنو سره پروان ونیو، باګرام یې ونیو او یوځل پاڼه په بل مخ واوښته....»

مسعود په پورته خبرو کې غواړي کابل ته د بې طرفه حکومت راتګ او په شا کې یې د ملګرو ملتونو د ځواکونو د راتګ مخنیوی، په هغه مهال دولت کې د ببرک په مشرۍ د پرچمي ډلګۍ سره د شریکې کودتا پرځای، د پروان او باګرام د خلکو پرغاړه وراچوي.

همداراز دې څخه مخکې د پاکستاني واکمنو په ملاتړ د جنرال شهنواز تنې د ۱۹۸۹ کال کودتا هم، د نجیب په مشرۍ د ګوند او دولت د نویو تګلارو د ماتولو لپاره په پام کې نیول شوې وه !

ددې کودتا یوه موخه دا وه چې که د شهنواز تنې په وسیله، د نجیب په مشرۍ رژیم نسکورشي خورا ډېره ښه او که نه د خلقیانو یو زیات شمېر به له نجیبه ناراض او مرور شي او د سبا لپاره کله چې ببرک، د نظارشورا او جمعیت په ملاتړ پر نجیب ګوزار کوي، نجیب به د خلقیانو په وجود کې د پوځیانو او په ټوله کې د پښتنو له ملاتړه بې برخې شوی وي او نسکورول به یې اسان وي، لکه څنګه چې روسته همداسې وشول !

بلخوا ټولنه کې هم د دوکتور نجیب شخصیت، د بهرني او په تېره بیا د پنجابي دوښمن په دې تور چې نوموړی یو مهال د خاد مشر او د شوروی دوست تېر شوی، تر پرله پسې ګوزارونو لاندې وو.

خو ددې ټولو ناخوالو په وړاندې نجیب د خپل، واک په پیر کې ځینې داسې پوځي او سیاسي بریاوې لري چې د هغه هیڅ حریف او سیاسي سیال یې له پامه نه شي غورځولای.

دوکتورنجیب، د لویدیځ په ملاتړ د پاکستان د چلوټو او بدماشیو په مستیو کې بیا هم هغه دولت سره د ژنیو د سولې تړون لاسلیک کړ چې که پاکستان په هغه تړون کې خپله ذمه واري په بشپړه توګه پلې کړې وای، نن به نه د افغانستان، نه د پاکستان او نه زموږ د سیمې حالات داسې کړکېچن وای، بلکې افغانستان او سیمه به د ترهګرو له ځانمرګو بریدونو او اوسنیو پوځي مخامختیاوو څخه ژغورل شوی وای !

په دې تړون کې چې د افغانستان او پاکستان د بهرنیو چارو وزیرانو په ژنیو کې د ۱۹۸۸ کال د اپریل په ۱۴ مه یا د ۱۳۶۷ کال د غوایي په ۲۵ مه، د پخواني شوروي اتحاد، امریکا او ملګرو ملتو استازو په مخکې او د شوروي او امریکا په تضمین لاسلیک کړ، په هغه کې د نورو تر څنګ، په دې ټکو ټینګار شوی وو :

د افغانستان په کورنیو چارو کې د لاسوهنې د بندیدا په موخه، پاکستان او ایران کې د وسلوال اپوزیسیون د دفترونو، روزنغالو او دوی ته د وسلو او پیسو د ورکړې بهیر په ټپه دریدا، هیواد ته له پاکستان او ایران څخه د افغان کډوالو په عزت د راستنیدو لپاره امکانات برابرول او کډوالو ته د نړیوالو ټولنو لخوا مالي مرستې او د تضمین په بریالي پلیتوب، له مخکینۍ ټاکل شوې نېټې سره سم د شوروي ځواکونو د وتلو پیل.

که څه هم د ژنیو تړون د پلیتوب ذمه واري یوشان د دواړو دولتونو پرغاړه وه، خو هغه یوازې افغان لورې پلې کړه او له افغانستانه یې د شوروي اتحاد د ځواکونو وتونلار اواره کړه. پاکستاني لوري د ژنیو تړون د پریکړو په خلاف چې افغانستان ته یې باید د هغه مهال د ترهګرو د رالیږد مخه نیولای وای، ترهګر نورهم پیاوړي او وسلوال کړل چې د ۱۳۶۷ کال د کب د ۱۲ نېټې د جلال اباد جنګ او تیری یې څرګنده بېلګه ده.

د جلال اباد جګړه هم د نجیب په مشرۍ افغان ځواکونو وګټله او پاکستان د ژنیو تړون په لاسلیک له سیاسي ماتې سربېره په پوځي برخه کې هم لویه او شرمېدونکې ماتې وخوړه. کله چې پاکستان د ترهګرو په وسیله، په مخامخ جګړه کې بری ترلاسه نکړ، په نظام کې دننه یې د جنرال تني په لاس په ۱۳۶۸ کال کې پوځي بغاوت ته لمن ووهله او غوښتل یې هغه څه چې د جلال اباد جګړه کې یې نه وو ترلاسه کړي، د تني په بغاوت کې یې لاس ته راوړي. البته لکه څنګه چې ولېدل شول، د پاکستان دا هیله هم شنډه شوه او له رسوایي پرته یې نور څه په برخه نه شول !

ښایي نجیب په تېرو او راوروسته ولسمشرانو کې یوازیني هغه، وګڼل شي چې د وړپاتې دولت او ګوند، زړه او له وخت لوېدلي تګلار او اندتوګه یې حلاجي کړه او له سموونکو نیوکو روسته یې له بیخه بدله کړه. هغه بیرته د افغانانو ترمنځ روغې جوړې او پخلاتوب ته راستون شو او پرهغې د شهادت تر پولې ټینګ ودرید چې پخوانیو هغو، له پامه غورځولي وو. نجیب د خبرو او عمل تر منځ واټن لیری کړ او خپلو ټولو وعدو ته ژمن پاتې شو چې ویاړلی مرګ یې ددې خبرې څرګند ثبوت دی !

دوکتورنجیب له مخکې ویلي و « له ډېر پخوا، حتی له میاشتو او کال مخکې پوهیدم چې حالات به دا شان بدلون مومي او زه به یوازې پاتېږم، که وشم کولای دغه ماته کښتۍ له دې حالته چې توپاني کیږي، کوم لوري او یا کڅ ته خوندي پورې باسم. پوهیږم له سختو خطرونو سره مخ یم خو چاره نه لرم، زما ولس پرما دا حق لري»

ویل کیږي چې تاریخ د فاتحانو لخوا او د هغو په ګټه لیکل کیږي، خو نه د ۱۹۹۲ کال په کودتا کې کودتاچیان او نه په ۱۹۹۲ کال کې پنجابي طالبان، د دوکتور نجیب په ګوښه کېدو او شهادت کې، فاتحان وګڼل شول، بلکې په دواړو وطن دوښمنه او افغان دوښمنه پېښو کې د دوی مخونه تور او تاریخ د نجیب او د هغه د لارې په ګټه لوری ونیو !

که څه هم د هغه شخصیت د یوه افغان انسان پتوګه له خپلې ټولنې، لکه بله هره ټولنه، پورته نه شي جوړیدای، خو په ډېرو ښېګڼو سره هغه د خپلې ټولنې یو وتلی ریښتیني او سپیڅلی افغان مشرو.

اروا دې ښاده وې !

یادونه:

[۱] دا هغه یکشنبه ده چې مخې جمعې ته یې کوداچیانو کودتا وکړه او د لنډمهال حکومت پرځای د مسعود ـ کارمل ائتلافي حکومت ، کابل او ټول افغانستان د تنور په سرو لمبو کې وریت او تر ننه ښکېل وساته !